مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۵/۱۴

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (یوپنځو سمه برخه)

### محمد یوسف کهزاد

د احمد علي کهزاد ورور د محمد علي زوی په ۱۹۳۲ز کال کې په کابل کې زیږېدلی دئ. د نجات له لیسي څخه فارغ سوی دئ. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د معارف د وزارت په مالي مرستي ایتالیا ته لاړ او په ښکلیو هنرونو کې ئې خپل لوړې زده کړې تر لاسه کړې. د دولتي مطبوعاتو لپاره رسام او هم ډرامه لیکونکی او ممثل وو. په ۱۹۴۶ز کال کې ئې د کابل په لومړني نندارتون کې ونډه واخیستله. په ایټالیا کې د سرو زرو د مډال په ګډون ګڼ شمېر نور مډالونه ئې اخیستي دي. د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کې د ښکلیو هنرونو د ریاست رئیس سو.

### آیت الله قربان علي محقق کوره ګاني

دی یو تورکمن دئ. د غلام رضاء زوی په سرخ پارسا کې زیږېدلی دئ. په تورکمن درې کې ئې خپلې لومړني زده کړې په اسلامي علومو کې بشپړې کړې او ورپسې په ۱۹۵۱ز کال کې د عراق نجف ته لاړ. د شلو کالو لپاره ئې د آیت الله حکیم، آیت الله خوی او آیت الله شریعت مداري تر لاس لاندې د شیعه د ایډیالوژۍ زده کړه او تدریس وکړ. د لبنان د امام موسی صدر ملګری او همکار. په عربي او دري ژبو ئې څو کتابونه چاپ کړل. په ۱۹۷۴ز کال کې اړ ایستل سو چې له افغان شیعه ټولني سره یو ځای له عراق څخه ووځي او افغانستان ته راستون سو. د کابل په پل ِ سوخته کې ئې د جمعیت العلم په نوم یوه شیعه مدرسه پرانیستله. په ۱۹۷۹ز کال کې له افغانستانه وتښتېد او اوس د ایران په قم کې استوګن دئ او د هزاره د مقاومت د غورځنګ یوه نامتو څېره ده.

### حبیب کوره ګاني

تورکمن دئ. د سلطان محمد زوی. د غازي ښوونځي ته تللی او په ۱۹۶۴ز کال کې د تکنالوژۍ له انستیتیوت څخه فارغ سوی او د بیروت په امریکایي پوهنتون کې ئې سیاسي علوم او عامه اداره ولوستله او په ۱۹۷۱ز کال کې ئې خپل لیسانس تر لاسه کړ. فرانسوي ئې په «الاینس فرانسیز» [1] کې ولوستله او د ۱۹۷۱ – ۱۹۷۲ تر منځ ئې په پاریس کې د انګلیسي تدریس وکړ. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د «سولیژن» [2] په ښوونځي کې ښوونکی. په ۱۹۷۵ز کال کې ئې د شمالي آیوا له پوهنتون څخه خپله ماستري په نړۍ والو اړیکو کې ترلاسه کړه. له ۱۹۷۸تر ۱۹۷۹ز کال پورې

[1] -Alliance Francaise
[2] -Salesian


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په ایران کې د (جنرال ټیلیفون اینډ الکترونیکس)[3] سلاکار. په ۱۹۸۰ز کال د امریکا غږ راډیو لپاره د دري ژبې برودکاسټر. په ۱۹۸۲ز کال کې د دري خپروني ایډیټر. په ۱۹۸۳ز کال کې سرپرست. په ۱۹۸۴ز کال کې سینیر منجینګ ایډیټر.

## حاجي صالح محمد کوره ګاني

یو تورکمن دئ. د سرفراز خان زوی په سرخ و پارسا کې زېږېدلی دئ. په کابل کې د تورکمن هزاره ګانو د غورځنګ یو مشر. د ولسي جرګې په اتم دور کې د سرخ و پارسا استازی او د ۱۹۶۴ز کال د لویې جرګې غړی. د ۱۹۷۹ز کال د مارچ په ۲۴ نېټې له خپلو څلورو زامنو سره یو ځای وتښتول سو او تر اوسه پورې ترې تم دئ.

## غلام حضرت کوشان

په ۱۹۱۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې د حبیبیې په ښوونځي کې کړې دي. د باختر خبري آژانس اسیستانت. د اصلاح اسیستانت. د آریانا ژورنال محرر. د سرې میاشتې د نشراتو ډایرکټر جنرال. د سرې میاشتې د مجلې بنسټ ایښودونکی، او په کابل کې د ملګرو ملتونو د خپرونو اسیستانت. د راډیو افغانستان مشر. د باختر خبري آژانس رئیس. د اطلاعاتو د وزارت د نشراتو رئیس. د معارف د تیاتر مؤلف. مورنۍ ژبه ئې دري ده. اعلیحضرت محمد ظاهر شاه او کورنۍ ئې د هجوي تنقید لاندې ونیوهٔ، همدا رنګه د (ناشوک/ نشوک)[4] په مستعار نوم ئې لیکنې کولې.

## پاینده محمد کوشاني

د احمد علي له دوهمې مېرمنې عایشې څخه د احمد علي زوی په ۱۹۲۶ز کال کې په جلال آباد کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۰ز کال کې د حبیبیې له لیسې څخه فارغ سوی، او په ۱۹۵۴ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۴ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې شامل سوی دئ. له ۱۹۵۵ تر ۱۹۵۶ز کال پورې د مکلفیت دوره ئې بشپړه کړې ده. په ۱۹۵۷ز کال کې د پاکستان په پلازمېنې کراچۍ کې د افغان سفارت دوهم سکرتر، او په ۱۹۶۰ز کال کې شارژدافیر. په ۱۹۶۲ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د هند/ پاکستان د ډیسک مشر. په ۱۹۶۲ز کال کې د هندوستان په بمبئې کې افغان قنسل. په ۱۹۶۴ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د پروتوکول مدیر. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۶ز کال پورې ئې د انګلستان د آکسفورډ په پوهنتون کې د باندنې خدمت په کورسونو کې ګډون وکړ. په ۱۹۶۶ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د اقتصاد د مدیریت مرستیال مدیر. په ۱۹۶۷ز کال کې په مسکو کې د افغان سفارت لومړی سکرتر. له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د باندنیو چارو په وزارت کې د اروپا او امریکا د دیپارتمنتونو مرستیال مدیر. په ۱۹۷۷ز کال کې نیپال ته افغان پلاوی؛ او په ۱۹۷۸ز کال کې ارجنتاین او بونس آیرس ته افغان پلاوی. په ۱۹۷۸ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې د قنسلي څانګې عمومي مدیر. په ۱۹۷۹ز کال کې په نوي ډیلي کې د افغان سفارت قنسل. په ۱۹۷۹ز کال کې ئې په لویدیځ جرمني کې سیاسي پناه واخیستله او په ۱۹۸۱ز کال کې امریکا ته راغی. له مېرمن پروین اکبر سره ئې واده کړی دئ او یو

---

[3] - General Telephone and Electronics
[4] -Nashok


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زوی لري. په ۱۹۷۷ز کال کې ئې د انیس د ورځپاڼې لپاره د «پټریک مکروري»[5] کتاب «سیګنل کټس تروفي»[6] وژباړه.

## نور محمد کلوخ

د میرزا محمد زوی په ۱۹۰۰ز کال کې د مشرقي (ننګرهار) په سرخرود کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې په کور، پېښور، لاهور او کویټې کې کړې دي. په جلال آباد کې کاتب، سرکاتب، مدیر او د مالی چارو افسر سو. لیکوال او شاعر.

## سید محمد سرور کونړی

د سید جعفر پاچا زوی په ۱۸۸۸ز کال کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې له خپل پلار او هم خصوصي کړې دي. د پارسي او عربي ادب ښه پوهه او آشنایي ئې تر لاسه کړه. د سردار عنایت الله خان د منشي السلطان د دفتر منشي. په ۱۹۱۲ز کال کې د واخان حاکم؛ په ۱۹۱۴ز کال کې د سنګچارک حاکم؛ په ۱۹۲۱ز کال کې د شینوارو حاکم؛ په ۱۹۲۴ز کال کې د کونړ حاکم؛ او په ۱۹۲۷ز کال کې د مقر حاکم. په ۱۹۲۸ز کال کې د غزني او جاغوري حاکم اعلی. د نادر شاه د واکمنی په لومړیو کې د امان الله خان پلوی ګڼل کېدهٔ او په همدې دلیل په کور کې حبس تعلیقي وو. په ۱۹۳۱ز کال کې د مالیې په وزارت کې د مأمورینو مدیر. یو ځل بیا په کور کې حبس سو او د هاشم خان پر مهال بې کاره وو او د جلال آباد په باغ ذخیرې کې او د سرخرود په «قلعهٔ نائب ها» کې ئې ځمکې او شتمنۍ مصادره سوې. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۴۷ز کال پورې د کورنیو چارو په وزارت کې د تفتیش د ریاست غړی. په ۱۹۵۲ز کال کې وفات سو د کابل په جابرالانصار کې خاورو ته وسپارل سو. زامن ئې د مسعود او هاشمیان تخلصونه کوي.

**احمد کشککي** : وګورئ : دیوانه

## برهان الدین کشککي

د حاجي علي احمد زوی په ۱۸۹۴ز کال کې د ننګرهار په کشک کې زېږېدلی دئ. ژورنالیست او د اسلامي شرعیت عالم. د اتحاد مشرقي محرر. د امانِ افغان او حقیقت مرستیال مدیر. د ۱۹۲۴ز کال د لویې جرګې د بهیر د کتاب مؤلف. د اعلیحضرت امان الله خان په خصوصي دارالانشاء کې ئې د حقوقي کارپوه په توګه خدمت وکړ. د اسلامي قانون د تدوین د اجلاس سلاکار. د ننګرهار د والي شخصي یاور. په ۱۹۲۹ز کال کې د حبیب الله کلکاني د حبیب الاسلام د خپروني محرر. د اعلیحضرت نادر شاه په خصوصي دارالانشاء کې وګومارل سو او له ۱۹۳۲ تر ۱۹۴۰ز کال پورې د اصلاح محرر وو. د نادرِ افغان کتاب ئې ولیکهٔ او خپور سو. د «رهنمای قطغن و بدخشان» د کتاب لیکوال (فرانسوي ته د مارګریت روت[7]) په وسیلې وژباړل سو. له ۱۹۴۰ تر ۱۹۴۳ز کال پورې د معارف د وزارت د تألیف رئیس. د پښتو د څېړني د کمېټې مشر. پښتو د افغان د رسمي ژبې پلوی او مدافع. قرآن عظیم الشأن ئې پښتو ته وژباړهٔ. په

---

[5] - Patric Macrory
[6] -Signal Catastrophy
[7] -Marguerite Reut


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۹۴۴ز کال کې د کندهار د معارف رئیس. د دولتي مطبعې رئیس. په ۱۹۵۱ز کال کې د مطبوعاتو د ریاست عمومي مدیر. په ۱۹۵۳ز کال کې وفات سو. مورنۍ ژبه ئې پښتو وه.

**نور بیا**

## صباح الدین کشککي

د برهان الدین دریم زوی په ۱۹۳۳ز کال کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۲ز کال کې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ